بسم الله الرحمن الرحيم

# تر پيل د مخه خبري

په ۲۰۰۷ م کال کي ما عبدالعلي رسول زاده د سويډن د پوهني وزارت په غوښتنه د افغانستان د تاريخ ، کلتور ، ژبي ، ادب او نورو په اړه ډېر لنډ معلومات را ټول کړل. د نوموړو معلوماتو تر څنګ مي ځيني نور معلومات د نړۍ او سويډن په برخه کي هم په ډيجټل بڼه په سويډن کي د پښتو ژبي د لسم او يوولسم ټولګيو د تعليمي نصاب سره سم زده کوونکو ته د ګټه اخيستلو لپاره په www.pashto.se کي ځاى پر ځاى کړل.

څه موده وروسته يو شمېر هيوادوالو د تاريخ د دغي برخي غوښتنه د کتاب په شکل و کړه. دا دئ ما هم دغه برخه د يوه تدريسي کتاب په بڼه ترتيب کړه. خداى(ج) دي و کړي چي هغوى ګټه ور نه واخلي.

ليکونکى: عبدالعلي رسول زاده
۲۰۱۱ م کال د ډيسمبر ۲۰
alirasulzada@hotmail.com
www.pashto.se
0064709384755

# د تاریخ مبدا

تر دې له مخه چې په تاریخ پیل و کړو ښه به دا وي چې د تاریخ د شمېرلو ترتیب دلته معرفي کړو . دا ځکه چې په تاریخي لیکنو کې مختلفې نېټې په کار اچولې کیږي .

کله چې یو څه پېښیږي نو خلک ئې لیکي او یا ئې په یاد کې نیسي چې څه وخت دا کار وسو . خلک دغه وخت د تاریخ یا نېټې په نوم یادوي او کال ته په عربي ژبه کې سنه وایي.

انسانان په نړۍ کې دغه نېټه په مختلفو ډولونو سره لیکي . زه غواړم چې د هغو له جملې څخه د دغو لاندې ۲ ډولونو په برخه کې تاسې ته څه معلومات درکړم .

## ۱ ـ هجري ( سنه ) کال

## ۲ ـ میلادي یا عیسوي ( سنه ) کال

### ۱ ـ هجري سنه :

دغه سنه ولې هجري بلل کیږي ؟ کله چې حضرت محمد ( ص ) په مکه مکرمه کې د خپلې پیغمبرۍ اعلان وکړ ، یو شمېر خلکو د ده پیغمبري و منله چې دغه ډله خلک د مسلمانانو په نامه یاد سول او یو شمېر خلکو د ده په مخ کې درېز وکړ .

تر دې ورسته به همېشه د مکې هغو خلکو چې د حضرت محمد( ص ) او مسلمانانو مخالف ول مسلمانانو ته ازار ور کاوه . پدغه وخت کې د مدینې مسلمانانو حضرت محمد ( ص ) او د ده تر څنګ نورو مسلمانانو ته بلنه ور کړه چې مکه مکرمه پرېږدي او مدینې منورې ته چې نژدې ۶۰۰ کیلو متره د مکې و شمال ته پرته ده کوچ ور وکړي . د حضرت محمد ( ص ) چې تر جنګ سوله خوښه وه نو ئې د مدینې د خلکو بلنه ومنله او د مکې څخه ئې مدینې ته هجرت ( کوچ ) و کړ . د دغه وخت څخه هجري سنه یا کال را پیل کیږي چې دا پر ۲ ډوله دئ لکه : هجري قمري ( سپوږمیز ) او هجري شمسي (لمریز ) .

## الف ـ هجري قمري ( سپوږمیزه ) سنه ( کال ) :

دغه سنه د سپوږمۍ له ګرځېدو څخه د ځمکې پر شا و خوا شمېرل کیږي . سپوږمۍ تر ۴ اونیو په څه زیات وخت کې د ځمکې پر شا و خوا راګرځي چې دغې یوې دورې ته ئې یوه هجري سپوږمیزه

میاشت ویل کیږي. زموږ خلک دغه میاشتي د خدایي میاشتو په نامه هم بولي. سپوږمیزي میاشتي ځیني ۲۹ او ځیني ۳۰ ورځي لري او سپوږمیز کال ۳۵۴ ورځي لري. له دې کبله روژه ، اخترونه او ځیني دیني او نوري دوديزي ورځي هر کال د کال په مختلفو فصلونو کي راځي.

د دې سني په اساس د هجرت څخه تر نن پوري چي د ۲۰۰۷ عیسوي کال د مارچ د میاشتي لومړۍ نېټه ده ۱۴۲۷ هجري سپوږمیز کلونه تېر شوي دي. د هجري سپوږمیز کال میاشتي عربي او پښتو نومونه لري لکه:

## سپوږمیز کال

| پښتو | عربي |
|---|---|
| ۱ـ د حسن و حسین میاشت | محرم |
| ۲ـ صفره | صفر |
| ۳ـ لمړی خور | ربیع الاول |
| ۴ـ دوهمه خور | ربیع الثاني |
| ۵ـ دریمه خور | جمادي الاول |
| ۶ـ څلورمه خور | جمادي الاخر |
| ۷ـ د خدای تعالی میاشت | رجب |
| ۸ـ برات | شعبان |
| ۹ـ روژه | رمضان |
| ۱۰ـ کوچنی اختر | شوال |
| ۱۱ـ میاني | ذیقعده |
| ۱۲ـ لوی اختر | ذیحجه |

### ب ـ هجري شمسي (لمریز ه) سنه (کال):

د دې سني یا کال پیل هم هغه د حضرت محمد (ص) د هجرت له وخت څخه شمېرل کیږي. دغه کال د ځمکي له حرکت څخه د لمر پر شا و خوا شمېرل کیږي. ځمکه د لمر پر شا و خوا په ۳۶۵ ورځي او شپږو ساعتو کي ګرځي چي د دغي سني له مخي له هجرت څخه تر نن پوري ۱۳۸۵ کاله تېر شوي دي. د دې کال لومړۍ ۶ میاشتي هره یوه ۳۱ ورځي وي او تر هغو وروسته ۵ میاشتي هره یوه ۳۰ ورځي وي او وروستۍ میاشت ئې ۲۹ ورځي وي. د

ځلورو کلنو هغه ۶ ساعتونه چي سره یو ځای سي یو شواروز ځیني جوړیږي، ځکه هر ځلورم کال ۳۶۶ ورځي وي او دغه کال ته کبیسه کال وایي. د هجري لمریز کال میاشتي هم عربي او پښتو نومونه لري لکه:

## شمسي یا لمریز کال

| پښتو | عربي | ورځي |
|---|---|---|
| ۱ ـ وری | حمل | ۳۱ |
| ۲ ـ غویی | ثور | ۳۱ |
| ۳ ـ غبرګولی | جوزا | ۳۱ |
| ۴ ـ چنګاښ | سرطان | ۳۱ |
| ۵ ـ زمری | اسد | ۳۱ |
| ۶ ـ وږی | سنبله | ۳۱ |
| ۷ ـ تله | میزان | ۳۰ |
| ۸ ـ لړم | عقرب | ۳۰ |
| ۹ ـ لیندی | قوس | ۳۰ |
| ۱۰ ـ مرغومی | جدي | ۳۰ |
| ۱۱ ـ سلواغه | دلو | ۳۰ |
| ۲۱ ـ ماهی (کب) | حوت | ۲۹ |

## عیسوي یا میلادي سنه (کال):

دغه سنه د حضرت عیسی (ع) د زیږیدو له وخت څخه را شمېرل کیږي. دا کال هم د ځمکي د ګرځیدو څخه کوم چي د لمر پر شا و خوا ئي کوي شمېرل کیږي. دغه کال ۳۶۵ ورځي او شپږ ساعته وي. د میاشتو نومونه او د ورځو ورځو شمېر ئي په لاندي ډول دئ:

## عیسوي کال

| میاشتي | ورځي |
|---|---|
| 1- Januari | 31 |
| 2- Februari | 28 |
| 3- Mars | 31 |
| 4- April | 30 |
| 5- Maj | 31 |
| 6- Juni | 30 |

| | |
|---|---|
| 7- Juli | 31 |
| 8- Augusti | 31 |
| 9- September | 30 |
| 10- Oktober | 31 |
| 11- November | 30 |
| 12- December | 31 |

## د هجري سپوږميز کال اړول په هجري لمريځ کال :

د هجري سپوږميزي سنې اړول په هجري لمريزه سنه او يا برعکس د هغه په دقيقه توګه ځه مشکل کار دئ ، خو د رياضي په مرسته به په ډېر دقت سره امکان و لري او هغه به تخميني وي نه دقيق . يو مثال به ئې دلته لاندي را وړو :

نن ۱۴۴۳ هجري سپوږميز کال دئ غواړم و پوهېږم چي کوم هجري لمريز کال به وي ؟

حل : دا چي هر هجري سپوږميز کال ۳۵۴ ورځي دئ ، نو ۱۴۴۳ به په ۳۵۴ کي ضرب کړو او پر ۳۶۵ به ئې تقسيم کړو چي هجري لمريز ور ځخه جوړ شي :

$$1443 \cdot 354 = 150822$$

$$\frac{150822}{365} = 1399.51233$$

جواب ئې 1399.51233 شو ، چي په تقريبي توګه ۱۴۰۰ کال ور ځخه جوړ شو .

که هجري لمريز په سپوږميز کال اړوو ، بيا ۳۶۵ په ۱۴۰۰ کي ضربوو، حاصل د ضرب ئې پر ۳۵۴ تقسيموو ځو هجري قمري ور ځخه جوړ سي لکه :

$$1400 \cdot 365 = 511000$$

$$\frac{511000}{354} = 1443,50282$$

بيا هم په تقريبي ډول ۱۴۴۳ ور ځخه جوړ سول .

د هجري لمريزي سنې اړول عيسوي (ميلادي) سنې ته او يا برعکس ئې اسانه کار دئ . د دې دوو سنو تر منځ ۶۲۱ کاله توپير سته، هغه ځکه چي هجرت په ۶۲۱ م کال کي سوی دئ . که هجري لمريز کال په عيسوي کال اړوو نو به ۶۲۱ ور سره جمع کوو او که عيسوي په هجري شمسي اړوو نو به ۶۲۱ ور ځخه تفريق کړو لکه :

مثال:

ځلمی په ۱۳۴۴ هجري شمسي کال کي زېږېدلی دئ. د ده د زېږېدو کال به کوم عیسوي کال وي؟

جواب:

$$
\begin{array}{r}
۱۳۴۴ \\
+ ۶۲۱ \\
\hline
۱۹۶۵
\end{array}
$$

ځلمی په ۱۹۶۵ عیسوي کال کي زېږېدلی دئ.

د میاشتي او ورځي په برخه کي به د لاندي جدول څخه کار واخیستل سي

د هجري شمسي او عیسوي میاشتو تر منځ په لاندي ډول اړیکي سته. هغه دا چي د هجري شمسي کال لومړۍ ورځ چي نوروز یې هم بولو هر وخت د عیسوي کال د مارچ د ۲۱ نېټي سره برابره ده لکه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| د حمل | ۱ | د مارچ د میاشتي | ۲۱ |
| د ثور | ۱ | د اپریل | ۲۱ |
| د جوزا | ۱ | د مې | ۲۲ |
| د سرطان | ۱ | د جون | ۲۲ |
| د اسد | ۱ | د جولای | ۲۳ |
| د سنبلې | ۱ | د اګست | ۲۳ |
| د میزان | ۱ | د سپټمبر | ۲۳ |
| د عقرب | ۱ | د اوکتوبر | ۲۳ |
| د قوس | ۱ | د نوویمبر | ۲۲ |
| د جدي | ۱ | د ډیسمبر | ۲۲ |
| د دلوي | ۱ | د جنوري | ۲۱ |
| د حوت | ۱ | د فبروري | ۲۰ |
| د حمل | ۱ | د مارچ | ۲۱ |

اوس نو د میاشتي برابري د پورتني جدول څخه په اساني سره کولای سو او د ورځو د پیدا کولو لپاره به د هري هري میاشتي ټولي ورځي و لیکو او بیا به ئې سره و ګورو.

د دغه کار لپاره په انټر نيټ کې ځيني پروګرامونه سته چې د هغه له مخې هم په ډېره اساني سره دغه اړونه کېدای سي.




**پوښتني:**

۱ ـ ولي په لوېديځو هيوادو کې کال ۲۰۱۰ دئ او په اسلامي هيوادو کې کال يا ۱۴۳۰ او يا ۱۳۸۸ دئ؟ په دې اړه چې څه پوهېږې و ئې ليکئ!

۲ ـ ولي هر څلورم کال ۳۶۶ ورځي لري؟ پر دغه موضوع رڼا واچوئ!

۳ ـ ايا پوهېږې چې ولي روژه او اخترونه په مختلفو موسمونو کې راځي؟ دغه موضوع روښانه کئ!

۴ ـ رڼا په ۱۳۸۸هـ ل کال په افغانستان کې پيدا سوې ده. کله چې سويډن ته راغله نو سويډني مقاماتو د دې د پيدا کېدو نېټه عيسوي کال ته واړول. تاسي و واياست چې هغه به کوم کال وي؟

ليکونکی: عبدالعلي رسول زاده
۲۰۱۱ م کال د ډيسمبر ۲۰
alirasulzada@hotmail.com